| Political | سیاسی |
|---|---|

اولا ویکاندېر
ژباړه: فرهاد وياړ

# ولې نه؟

وايي:
"ولې شکايت کوئ؟
ولې زنګيرئ؟
ستاسو شکايت او زنګيدل،
يوازې د امريکا له متحدو ايالتونو څخه کرکه ښکاره کوي!
د امريکا له متحدو ايالتونو څخه کرکې تاسو ړانده کړي ياست.
کېږ، د امريکا د متحدو ايالتونو څخه له کرکې پرته بله مانا نلري!
ولې باور نشی کولای چې امريکاييان
ستاسو له ښوالي پرته
بل څه نه غواړي؟"

باور نکوو، ځکه چې هيرولی نشوو.
نشو کولای هيروشيما او ناکازاکي هيره کړو.
نشو کولای کوريا، کامبوج او ويتنام هير کړو
هر بم چې موغورځلی
زموږ په خاطرو کې يې ځان ته ځای پيدا کړی،
او هر ناپالم چې پر ولسونو اچول شوی،
زموږ په تاريخي حافظه کې يې ځای نيولی.
اندونيزيا او ختيځ تيمور را په ياد و
نيکاراګوئې را په ياد و.
هيرولی نشو
د سپتمبر يولسمه
په ۱۹۷۳ کال کې.
ليبيا او پانامه را په ياد و
عراق په ياد لرو
او ټولې هغه دردمني ځيرې،
هغه ځيرې چې هيڅکله مو اجازه پيدا نکړه چې وی وينو،
هيرولی نشو.

نو ولې پر هغوی باور وکړو؟
ولې پر هغوی باور وکړو؟
وايي: "تاسو د امريکا د متحدو ايالتونو څخه کرکه لرئ؟"

او زه، سره د دې چې پوهېږم و به ویل شی چې بد فکر کوئ
نشم کولای له ځانه پوښتنه ونکړم:
ولې نه؟